مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۶/۲۷

# غزل

## په مشرانو کی خیانت روان دی

په عبادت کې سیاست روان دی

په نوم د عدل، رذالت روان دی

چا چې مې وینه نن، پرون څښلې ده

د هغو خلکو ښه عزت روان دی



افغانستان په آتش کی

ویـاړونـه تـول رانـه لمبـو وسیزل

د استدلال ګـام په وحشت روان دی

د سرحدونـو واک پـردی شو رانه

پـر اقـتـدار پـوچ رقابت روان دی

سوله چې نه راځي علت یې دادی

چې یـې پـه نـوم منافقت روان دی

وطن به څنګه "پسرلېه" جوړ شي؟

چې په مشرانو کښي خیانت روان دی

**یادونـه:**

**که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!**